مهرباني وکړئ په یاد لري، چې نه مهاجر کارت او نه هم د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري له خوا د پیژندنې صادر شوي اسناد نه شي کیدای له نړیوالو پولو څخه د اوښتو لپاره وکارول شي، د افغانستان په ګډون.

### ۱۲. آیا د سلا مشورو او قانوني مرستې مرکز ( ALAC ) پر قانوني مرستې سربیره نور خدمتونه هم وړاندې کوي؟

هو، د سلا مشورو او قانوني مرستې مرکز ( ALAC ) د خپل خوښې ستنیدنې د طرز العمل او د افرادو او ګروپونو لپاره کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري د ستنیدنې د بستې، دغه راز د نویو زیږدلو ماشومانو د ثبت او د اړوند هغه طرز العمل چې باید تعقیب شي، معلومات وړاندې کوي. د سلا مشورو او قانوني مرستې مرکز همدارنګه د خپلې خوښې په ستنیدنې کې د خنډونو د رامنځ ته کیدو په صورت کې د قانوني منځګړیتوبونو له لارې مرسته برابروي.

### ۱۳. له نادرا څخه د مهاجر کارت تایید څرنګه تر لاسه کیدای شي (چې کور کرایه کړي، سیم کارت تر لاسه کړي او داسې نور)؟

د سلا مشورو او قانوني مرستې مرکزونه ( ALAC ) کولای شي له نادرا سره په همغږۍ کې د مهاجر کارت تاییدونه تسهیل او تنظیم کړي. د دغه ډول غوښتنې لپاره، عارض باید د اعتباري مهاجر کارت شمیره د سلا مشورو او قانوني مرستې مرکز ته وړاندې کړي. د دغې غوښتنې پروسس به کابو اووه کاري ورځې موده ونیسي.

### د سلا مشورو او قانوني مرستې د مرکزونو (ALAC) داړیکې شمیرې/پتې:

**اسلام آباد دفتر**
کور شمیره ۲، سي ایم ټي سړک، ګولړه موړ، اسلام آباد
دفتر: ۲۳۱۵۱۳۲، ۲۳۱۵۱۷۱ (۰۵۱)
فاکس: ۲۳۱۵۱۷۲ (۰۵۱)
د مرستې اړیکه: ۰۳۳۴ ۱۱۱۲۰۰۴-

**میاوالي دفتر**
کور شمیره ۵-اې، رحمان کوڅه، مسلم کالوني، میاوالي
دفتر: ۲۳۲۲۳۷ (۰۴۵۹)
فاکس: ۲۳۲۲۳۷ (۰۴۵۹)
د مرستې اړیکه: ۰۳۳۴ ۱۱۱۲۰۰۵-

**لاهور دفتر**
کور شمیره ۳۶۵، پاک بلاک، علامه اقبال ټاون، لاهور
دفتر: ۳۴۸۰۰۷۱۱، ۳۷۸۰۰۷۱۰ (۰۴۲)
فاکس ۳۷۸۰۳۱۶۰ (۰۴۲)
مرستې اړیکه: ۰۳۳۴ ۱۱۱۲۰۰۵-

**کراچۍ دفتر**
کور شمیره ۲۰۴/اې، بلاک ۱۰ کې ډي اې، ۲۴ نمبر سکیم، ګلشن اقبال، کراچۍ
دفتر: ۳۴۸۱۱۵۷۱ (۰۲۱)
فاکس: ۳۴۸۱۲۱۸۴ (۰۲۱)
مرستې شمیره: ۰۳۳۴ ۱۱۱۲۰۰۸-

**پیښور دفتر**
کور شمیره ۲۵۳، هادي لین، وي آی پي ګیسټ هاوس ته مخامخ، د باړې زوړ سړک، پیښور
دفتر: ۵۷۰۲۱۰۲ (۰۹۱)
مرستې شمیره: ۰۳۰۰ ۸۵۵۰۴۱۷-

**هاریپور دفتر**
نواز کور، کوڅه شمېره ۱، د رېل ګاډي د تېرېدا ځای، تالوکار سړک، هریپور
دفتر: ۶۱۲۰۲۳ (۰۹۹۵)
مرستې شمیره: ۰۳۱۵ ۵۰۰۹۵۰۱-

**مردان دفتر**
کور شمیره ۱۶۲، کوڅه شمېره ۵، سکتور- کې، شیخ ملتون ټاون، مردان
دفتر: ۸۴۰۳۷۹ (۰۹۳۷)
مرستې شمیره: ۰۳۱۵ ۵۰۰۹۵۰۲-

**کوهاټ دفتر**
کور شمیره ۱۱۱، ۱۱۲، سکتور ۹-، بنګش هاوس سره نږدې کوهاټ
دفتر: ۵۱۳۷۹۲ (۰۹۲۲)
مرستې شمیره: ۰۳۱۵ ۵۰۰۹۵۰۳-

**کوټه دفتر**
کور شمېره ۲۶۳-بي، چلتن هاوسنګ سکیم، ایېر پورټ روډ، کوټه
د مرستې شمېره: ۰۳۳۳۷۸۱۹۱۴۳

خاپیزئ چوک سنمګلي روډ، کوټه
دفتر: ۲۸۸۵۱۷۵ (۰۸۱)
فاکس: ۲۸۷۰۰۶۶ (۰۸۱)
مرستې شمیره: ۰۳۰۰-۸۳۸۹۹۹۵ یا ۰۳۴۵۸۳۲۲۴۰۳

### د سلا مشورو او قانوني مرستو د مرکزونو ( ALAC ) رسمي کاري ورځې/ ساعتونه

له دوشنبې تر پنجشنې د سهار له ۸:۰۰ د ماښام تر ۵:۰۰ بجو
جمعه د سهار له ۸:۰۰ د غرمې تر ۱۲:۳۰ بجو

د ساتنې د مرستې شمیره د اونۍ او رسمي رخصتیو په ورځو کې د سهار له ۸:۰۰ د شپې تر ۱۰:۰۰ پورې فعاله وي

### د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري د مرستې شمیرې

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري پیښور: ۰۳۰۰ ۸۵۸۵ ۶۰۰
د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري کوټه: ۰۳۳۳ ۷۸۱۹ ۶۰۱
د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري اسلام آباد: ۰۳۰۰ ۵۰۱۸ ۵۶۸
د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري کراچۍ: ۰۳۴۲ ۲۷۰۴ ۸۸۸

UNHCR
The UN Refugee Agency

UNHCR
The UN Refugee Agency

## هغه خبرې چې په اړه یې ډېرې پوښتنې کېږي

# د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري د سلا مشورو او د قانوني مرستو پروګرام

### ۱. د سلا مشورو/معلوماتی او قانوني مرستو د مرکزونو ( ALAC ) له خوا څه ډول خدمتونه برابرېږي؟

د سلا مشورو/معلوماتی او قانوني مرستو مرکزونه ( ALAC ) د پاکستان په هغو اصلي سیمو کې چې کډوال په کې میشت دي، د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره قانوني مرسته او قانوني استازیتوب وړاندې کوي. د (ALAC) مرکزونو چارې او فعالیتونه د کډوالۍ په سیمو کې د ناقانونه نیونو/توقیفونو، او مدني/کورنیو شخړو تمرکز کوي. قانوني سلا مشورې د قانوني کمپونو، او په پاکستان کې د هغوي د پاتې کېدو، د هغوي د مستند کېدو د وضعیت اړوند مسلو په اړه لکه د مهاجر کارتونو اعتبار، بیا نوي کولو یا تعدیلولو، د نویو پیدا شویو ماشومانو ثبتولو، د پولیسو له خوا ځورونې، مالي شخړو، عامه خدمتونو ته لاس رسي/ارجاع او د خپلې خوښې تسهیل شوې بېرته ستنېدنې په ګډون، په دفتر کې سلا مشورو، له دفتر بهر د انفرادي قانوني مرستو، او د هم د ټیلیفوني لیکې له لارې وړاندې کیږي. کله کله د سلا مشورو/معلوماتي او قانوني مرستو مرکزونه (ALAC) د کډوالو په منځ کې له عدالتي محکمې بهر، د دواړو خواوو په خوښه، د دودیز جرګه نظام یا د شخړو د تصفیې لپاره د ځایي حکومت شورى (Dispute Resolution Council) له لارې شخړې هواروي. د سلا مشورو او قانوني مرستو مرکزونه ( ALAC ) د قانون د انفاذ له چارواکو او دغه راز په پاکستان کې د کډوالو د قانون د هغوي د حقونو په اړه د قضایه قوې له غړو سره له نږدې کار کوي او د هغوي لپاره منظمې روزنیزې ناستې دایروي.

همدارنګه له هغو کډوالو او پناه غوښتونکو سره د قانوني استازیتوب د برابرولو له لارې مرسته کیږي، چې پر هغوي پورې شوي تورونه په هیواد کې د هغوي د پاتې کېدو په قانونیت پورې تړلي وي او دغه راز د هغوي د خوځښت آزادي د پاکستاني قوانینو تر مختلفو احکامو لاندې محدوده شوې وي، لکه د جزایي اجرآتو د قانون ۱۵۱/۱۰۷، ۱۴۴، ۱۰۹/۵۵ برخې او د پاکستان د جزا د قانون ۱۸۸ برخه. پر دې سربېره، کله چې کډوال/پناه غوښتونکي له جنسي/د صنف پر بنیاد یا کورني تاوتریخوالي سره مخ شوي وي او همدارنګه کله چې هغوي د ماشوم د ساتنې یا طلاق لپاره د محکمې د مداخلې په لټه کې وي، دغه مرسته د یوه قانوني عمل د تعقیب لپاره هم برابرېږي.

په جنایي قضیو کې قانوني مرستې په هغو کډوالو یا پناه غوښتونکو پورې محدودې دي، چې په ناسمه توګه تورن شوي وي او د دوي د بیګانه ګي او زیانمنیدونکي موقف پورې تړاو لري او یا په داسې شدیدو جرمونو تورن شوي وي لکه له ماشومانو سره لواطت، وژنه یا جبري ازدواج او دوي قانوني مرستو ته د تبعیض له امله لاس رسي نه لري. په دغه ډول قضیو د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري او د سلا مشورو او د قانوني مرکز ترمنځ مخکینۍ سلا مشورې حتمي دي او پرېکړه د هغو ځانګړو شرایطو پر بنسټ نیول کیږي، په اړونده قضیه حاکمیت ولري.

### ۲. دغه پروګرام څوک تطبیق کوي؟

دغه خدمتونه مختلف غیر حکومتي سازمانونه (انجوګانې) چې د دغه سند په پای کې لیست شوي، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري په مالي مرسته او ملاتړ برابروي.

### ۳. څوک مستحق دي چې د دغه پروګرام له لارې قانوني مرسته تر لاسه کړي؟

هغه پناه غوښتونکي چې د کډوالو د عالي کمیشنري له خوا صادر شوي د پناه غوښتونکو تصدیق پاڼه ولري، مهاجر کارت لرونکي افغان کډوال او هغه کډوال څوک چې د عالي کمیشنري تر صلاحیت لاندې پېژندل شوي او د دغې کمیشنري د کډوال پېژند کارت ولري، مستحق دي چې د سلا مشورو او قانوني مرستو د مرکز ( ALAC ) د پروګرام له لارې له قانوني مرستې څخه ګټه پورته کړي.

### ۴. د سلا مشورو او قانوني مرستو له مرکز ( ALAC ) څخه څه ډول د مرستې غوښتنه کیږي؟

مستحق اشخاص کولای شي د سلا مشورو او قانوني مرستو مرکز ( ALAC ) د مرستې شمېرې سره چې لاندې وړاندې شوې اړیکه ټینګه کړي یا نیغ په نیغه تر ټولو نږدې د سلا مشورو او قانوني مرستو مرکز ( ALAC ) ته مراجعه وکړي او د قانوني سلا مشورو یا مرستې غوښتنه وکړي.

### ۵. آیا د سلا مشورو او قانوني مرستو مرکز( ALAC ) هغو وګړو ته چې نه شي کولای دغه مرکزونو ته ورشي، قانوني سلا مشورې او مرسته برابروي؟

هو، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري او د سلا مشورو او قانوني مرستو د مرکز ( ALAC ) ټیمونه په منظم ډول د ټولنې د پوهاوي لیدنې ترسره کوي او د قانوني کمپونو او شورا د ناستو اړوند د ټولنې غونډې تنظیموي، څو د هغو خدمتونو په اړه پوهاوي رامنځ ته کړي، چې د سلا مشورو او قانوني مرستو د مرکزونو له خوا برابرېږي او د ټولنو د قانوني سلا مشورو او مرستو اړتیاوو ته رسیدګي وکړي.

### ۶. آیا د دغو خدمتونو په مقابل کې کوم فیس یا لګښتونه تادیه کیږي؟

د سلا مشورو او قانوني مرستو د مرکز ( ALAC ) ټول خدمتونه د اسنادو/ مدارکو او د محکمې د نورو لګښتونو په ګډون وړیا دي. خو د محکمو په لاربښوونه د شخصي تضمین لیکونو برابرول په تېره بیا په هغو قضیو کې چې ضمانت لیک د کډوال یا د پناه غوښتونکي په ګټه فیصله شوي وي، دا بیا یوازې د عارض مسوولیت دی.

که چیرې د مرستې په بدل کې د سلا مشورو او قانوني مرستو د مرکز ( ALAC ) د کارمندانو له خوا فیس وغوښتل/وضع شي، په اړه یې باید زر تر زره یا په دغو مرکزونو او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري په دفترونو کې د شکایتونو د بکسونو د کارونې له لارې، کوم چې په خوندي ډول مهرلاک شوي او د عالي کمیشنري د ځانګړو کارمندانو له خوا تشول کیږي یا د دغه pakisprt@unhcr.org برېښنالیک له لارې راپور ورکړي. دغه راپورونه په خورا محرمانه ډول او پرته له دې چې د لیکوال په اړه یې څه معلومات افشا شي، معامله او چلند کیږي.

### ۷. د بیړنۍ قانوني مداخلې په تېره بیا د نیونې/توقیف په صورت کې له عارض څخه کومو لومړنیو معلوماتو ته اړتیا ده؟

هرشخص چې د قانوني مرستې غوښتنه کوي باید خپل نوم، د پلار نوم، د هویت پاڼې شمیره (د مهاجر کارت/ د کډوال پېژند کارت/ د پناه غوښتونکي تصدیق پاڼه)، د اړیکه شمیره او د نیونې یا توقیف په صورت کې د پولیسو د اړوند مرکز/محکمې موقعیت او نوم وړاندې کړي. که چیرې د هویت پاڼې شمیره نه وي، د عارض عمر، نوم او د اصلي هستوګنځي (څرنګه چې په مهاجر کارت، د کډوال په هویت کارت یا د پناه غوښتونکي تصدیق پاڼه کې په ډاګه شوي) یا د عارض په اړه نور معلومات باید د تصدیق د پروسې لپاره برابر کړای شي. له عین کورنۍ سره ثبت شوي د بل هر شخص مهاجر کارت/د کډوال د هویت کارت هم کولای شي مرسته وکړي، که چیرې موجود وي.

هر کله چې شوني وي، کډوال او پناه غوښتونکي هڅول کیږي چې د قضیې اړوند موجوده ټول معلومات او اسناد د سلا مشورو او د قانوني مرستو مرکز ( ALAC ) قانون پوهانو/قانوني مشاورینو ته برابر کړي. خو که چیرې اسناد نه وي موجود، د سلا مشورو او قانوني مرستو مرکز ( ALAC ) بیا هم کولای شي چې د پورته یادو شویو اساسي معلوماتو پر بنسټ مداخله وکړي.

### ۸. آیا د سلا مشورو او قانوني مرستو مرکز ( ALAC ) د هغو افرادو لپاره قانوني مرسته برابروي، چا چې خپل د پېژندنې اسناد ورک کړي وي؟

هو، که چیرې د پېژندنې اصل اسناد نه وي موجود د سلا مشورو او قانوني مرستو مرکز ( ALAC ) قانوني مرسته برابروي. خو د دې لپاره چې په پاکستان کې د فرد قانوني وضعیت تایید شي، دا به ګټور وي چې د اړیکې/ کارت شمیره وړاندې کړای شي. د اړیکې/کارت شمیرې نښتون ښایي د ځنډ لامل شي، لکه څنګه چې مخکې تر دې چې کومه قانوني مرسته وړاندې شي، د عارض د دوسیې کتل اړین دي.

### ۹. د ورک شوي هویت کارت کاپي څرنګه تر لاسه کیدای شي؟

د پېژندنې/هویت د اسنادو لکه د مهاجر کارت، د اصلي هیواد پېژند پاڼه او پاسپورت د ورکیدو په صورت کې، د سلا مشورو او قانوني مرستې مرکز ( ALAC ) کولای شي یو شهادت/سوګند پاڼه جوړه او د پولیسو په مرکز کې یې راپور درج کړي، کوم چې د دغو کارتونو د کاپي د ترلاسه کولو د غوښتنلیک د وړاندې کولو لپاره اړین دي، څو دغه اسناد خوندي شي. د مهاجر کارت د ورکیدو په صورت کې، د سلا مشورو او قانوني مرستې مرکز ( ALAC ) کولای شي د افغان حکومت د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو له وزارت څخه تایید لیک ترلاسه کړي، کوم چې باید د مهاجر کارت د کاپي د صادرولو لپاره د نادرا د پي سي ایم نږدې مرکز ته وسپارل شي. د هویت هغو اسنادو د کاپي د ترلاسه کولو لپاره غوښتنلیکونه چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري له خوا صادر شوي، باید په مستقیم ډول د کډوالو عالي کمیشنري ته وسپارل شي.

### ۱۰. د نیونې/توقیف په صورت کې قانوني مرسته څنګه رسول کیږي؟

کله چې یو کډوال/پناه غوښتونکی د کډوالۍ د قانون پر بنسټ ونیول یا توقیف شي، باید زر تر زره د مرستې د شمیرو له لارې معلومات د سلا مشورو او قانوني مرستې له مرکز( ALAC ) یا کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري سره شریک کړای شي. د سلا مشورو او قانوني مرستې د مرکز ( ALAC ) قانون پوهان/قانوني مشاورین به زر تر زره د پولیسو د تلاشي اړوندې پوستې یا مرکز ته ځان رسوي او د فرد د ازادولو لپاره به تیاری نیسي. که چیرې د پولیسو له خوا د بهرنیانو تر قانون یا نورو مخه نیوونکو احکامو لاندې د معلوماتو لومړی راپور (ایف آی آر) درج کړی وي، د سلا مشورو او قانوني مرستې د مرکز ( ALAC ) قانون پوهان/قانوني مشاورین به د محکمې په ټولو پړوانو کې دوسیه تعقیبوي.

### ۱۱. یو کډوال/پناه غوښتونکی څرنګه کولای شي چې د کډوالۍ تر قانون لاندې له دې چې ونیول یا توقیف شي مخنیوی وکړي؟

په میشت ځایونو یا د اوږد سفر پر مهال اصلي مهاجر کارت یا د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري له خوا د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره صادر شوي د پېژندنې اسناد باید تل له ځان سره ولیږدوي. د دې سپارښتنه کیږي چې د اصلي اسنادو د ورکیدو په صورت کې د دغو اسنادو فوتوکاپي په خپل کورونو کې وساتي.